د قيامت په ورځ به لمر مخلوق ته نږدې شي، تر دې چې د هغوی څخه به د يو ميل په اندازه واټن کې شي

له مقداد بن الأسود رضي الله عنه نه روايت دی وايي چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې ويل يې: «د قيامت په ورځ به لمر مخلوق ته نږدې شي، تر دې چې د هغوی څخه به د يو ميل په اندازه واټن کې شي»، سليم بن عامر وايي: قسم په الله، زه نه پوهيږم چې له "ميل" څخه يې موخه څه ده؟ آيا د ځمکې واټن دی، که هغه سلايی دی چې سترګو کې پرې رانجه کيږي؟ فرمايي: «خلک به د خپلو اعمالو له مخې په خولو کې وي: ځينې به تر پښو يعنې ښنګرو پورې وي، ځينې به تر ګونډو پورې، ځينې به تر کونډو پورې وي او ځينې به داسې وي چې په خولو کې به ټول ډوب وي» راوي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم په لاس خولې ته اشاره وکړه.

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

پيغمبر صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې د قيامت په ورځ به لمر مخلوق ته نږدې شي، تر دې چې د هغوی له سرونو سره به د يو ميل په اندازه واټن کې شي. تابعي سليم بن عامر وايي: قسم په الله، زه نه پوهيږم چې له دوو ميلونو څخه يې کوم يو مراد دی؟ آيا د ځمکې واټن (يعنې يو ميل فاصله)، که هغه ميل (سلايي) چې سترګې پرې توريږي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: خلک به د خپلو اعمالو له مخې په خولو کې وي؛ ځينې به داسې وي چې خوله يې تر پښو (ښنګرو) پورې وي، ځينې به تر ګونډو، ځينې به تر کونډو او ازار بند (بډو) پورې وي، او ځينې به داسې وي چې خوله يې تر خولې پورې رسيږي او د خبرو کولو مانع به يې ګرځي. راوي وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم په لاس خپلې خولې ته اشاره وکړه.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/4289